امنیت شورا

خپرېدل: عمومي
۱۵ جون ۲۰۲۶

**۲۸۲۲ (۲۰۲۶) ګڼه پرېکړه لیک**

**د امنیت شورا لخوا د ۲۰۲۶ کال د جون په ۱۵مه نېټه په ۱۰۱۷۱مه غونډه کې تصویب شو**

*امنیت شورا،*

د افغانستان په اړه خپلو پخوانیو پرېکړهلیکونو ته په پام سره، په افغانستان کې د وضعیت په اړه، چې په ۲۸۱۸ (۲۰۲۶) ګڼه پرېکړه لیک کې هم ذکر شوي، خپلې جدي اندیښنې یو ځل بیا څرګندوي،

پر دې ټینګار کوي چې ملګري ملتونه به په افغانستان کې د سولې او ثبات د رامنځته کولو په برخه کې خپل مهم رول لوبولو ته دوام ورکړي،

د افغانستان د حاکمیت، خپلواکۍ، ځمکنۍ بشپړتیا او ملي یووالي پر وړاندې خپله کلکه ژمنه یو ځل بیا تازه کوي، او همدارنګه د افغانستان د خلکو سره خپل دوامداره ملاتړ څرګندوي،

د افغانستان د ناوړه اقتصادي او بشردوستانه وضعیت په اړه د خپلې ژورې اندېښنې پر څرګندولو ټینګار کوي، د بشري مرستو د پیاوړتیا او د اساسي بشري او پراختیایي اړتیاوو د ملاتړ پر اړتیا اعتراف کوي، چې د افغانستان د اوږدمهالې ځانبسیاینې لپاره حیاتي ارزښت لري، او همدارنګه په ټول افغانستان کې بشري مرستو ته د ټولو اړمنو خلکو د بشپړ، چټک، خوندي او بېخنډه لاسرسي پر حیاتي اهمیت بیا ټینګار کوي،

د بشري حقونو او بنسټیزو ازادیو، په ځانګړې توګه د ښځو او نجونو، پر وړاندې د درناوي د خورا زیات او پراخ کمزوري کېدو په اړه خپله ژوره اندیښنه څرګندوي، او په دې باندې ټینګار کوي چې د دغو حقونو او ازادیو نشتوالی په هېواد کې سوله، ثبات او هوساینه ناشونې کوي، او یو ځل بیا د ټولو هغو پالیسیو او کړنو د له منځه وړلو غوښتنه کوي چې د بشري حقونو په تړاو د افغانستان له نړیوالو مکلفیتونو سره په ټکر کې دي، او په ټول هېواد کې د ملګرو ملتونو دفترونو ته د ملګرو ملتونو د افغان ښځینه کارکوونکو پر بشپړ لاسرسي او ورتګ باندې ټینګار کوي،

د افغانستان په خاوره کې د ترهګریزو ډلو د شتون په اړه جدي اندیښنه څرګندوي چې لا هم نړیوالې سولې او امنیت ته ګواښ پېښوي، او په افغانستان کې د ترهګرۍ پر وړاندې مبارزې پر اهمیت یو ځل بیا ټینګار کوي، د هغو افرادو، ډلو، کړنو او ادارو په ګډون چې د ۱۲۶۷ (۱۹۹۹)، ۱۹۸۹ (۲۰۱۱) او ۲۲۵۳ (۲۰۱۵) پرېکړهلیکونو پر بنسټ د امنیت شورا د کمیټې له خوا د ترهګرو په توګه پېژندل شوي دي،

۱. د ۲۰۲۷ کال د جون تر ۱۷مې نېټې پورې د یوناما د ماموریت غځولو پرېکړه کوي، چې د دې پرېکړه لیک په دویم پاراګراف کې هم ذکر شوي دي، او د یوناما له چارو څخه یو ځل بیا خپل بشپړه ملاتړ څرګندوي؛

۲. همدارنګه پرېکړه کوي چې یوناما، د سرمنشي د ځانګړي استازي تر مشرۍ لاندې، د ټولو اړوندو افغان سیاسي لورو او ذینفع شریکانو، په ځانګړي ډول له اړوندو چارواکو سره په سلا مشوره، او د افغانستان د خلکو د ملاتړ په موخه، په داسې ډول چې د افغانستان له حاکمیت، مشرۍ او مالکیت سره سمون ولري، خپل ماموریت په لاندې ډول سرته ورسوي:

(الف) د نړیوالو حقوقو، په ګډون د نړیوالو بشردوستانه قوانینو، او د بشري مرستو له اصولو سره سم، د بشري مرستو او د هغو د ملاتړ لپاره د امنیت شورا د ۲۰۲۱ کال (۲۶۱۵) ګڼه پرېکړه لیک په پام کې نیولو سره، د مالي سرچینو د برابرولو همغږي او اسانتیا رامنځته کړي، او په ټول افغانستان کې د بنسټیزو بشري اړتیاوو او بشري فعالیتونو ترمنځ همکاري او همغږي پیاوړي کړي؛ په ټول هېواد کې د ښځو په ګډون، ټولو اړمنو کسانو ته، له هر ډول تبعیض پرته، د بشري او پراختیایي ادارو او د هغوی د کارکوونکو لخوا ښه لاسرسی لا زیات کړي؛ د هغو هڅو ملاتړ وکړي چې د داخلي بېځایه شویو کسانو او کډوالو د داوطلبانه، خوندي، باعزته او دوامداره بېرته ستنېدو او بیا یوځای کېدو لپاره مناسب شرایط رامنځته کوي؛ او د نړیوالو تمویلوونکو او سازمانونو ترمنځ همغږي رامنځته کړي څو بنسټیزو انساني اړتیاوو ته رسېدنه وشي او د ټولنیز اقتصادي پرمختګ هغو لومړیتوبونو ته وده ورکړل شي چې د ځانبسیاینې او ثبات لامل ګرځي، د اړینو خدمتونو د وړاندې کولو د ملاتړ، په افغانستان کې د سوداګریزو او مالي فعالیتونو د اسانتیا، او د هغو هڅو د ملاتړ له لارې چې د افغانستان د خلکو د ګټې لپاره د افغانستان د مرکزي بانک شتمنیو ته د لاسرسي د اسانتیا په موخه ترسره کېږي؛ همدارنګه د حساب‌ورکونې، شفافیت او له مرستو څخه د اغېزمن او له تبعیض پرته ګټې اخیستنې د زیاتوالي لپاره د هڅو ملاتړ وکړي؛

(ب) د ملګرو ملتونو تر مشرۍ لاندې په اړوندو چوکاټونو کې، د اړیکو او خبرو اترو لپاره د منځګړیتوب زمینه برابره کړي، چې په کې د افغانستان په اړه د ګډون کوونکو غړو هېوادونو د ځانګړو استازو او استازو ډله هم شامله ده، څو په افغانستان کې د اړوندو چارواکو او نورو اړوندو ذینفع شریکانو ترمنځ، د سیمې هېوادونو، پراخې نړیوالې ټولنې او مدني ټولنې په ګډون، د خبرو اترو زمینه برابره شي، په دې موخه چې افغانستان د خپلو ټولو نړیوالو مکلفیتونو او ژمنو د پوره کولو لوري ته وهڅول شي، څکه همدا له نړیوالې ټولنې سره د افغانستان د بېرته یوځای کېدو یو بنسټ جوړوي؛ په ملي او محلي کچه د داسې ټولګډونه، استازي درلودونکې، مشارکتي او ځواب‌ویونکې حکومتولي ترویج کړي چې د جنس، دین یا قومیت پر بنسټ له هر ډول تبعیض څخه پاکه وي، او په کې د ښځو بشپړ، برابر، مانادار او خوندي ګډون، او همدارنګه د لږکیو، ځوانانو او معلولینو مانادار ګډون تضمین شوی وي؛

(ج) له ټولو ذینفع شریکانو، مدني ټولنې، او همدارنګه د افغان ښځو له سازمانونو سره، په ملي او محلي کچه تعامل او همکاري وکړي څو د ټولو افغانانو د بشري حقونو د خوندیتوب او ودې بهیر ته پرمختګ ورکړي؛ د بشري حقونو او اساسي آزادیو اړوند د هغو نړیوالو اسنادو، د ښځو پر وړاندې د هر ډول تبعیض د له منځه وړلو کنوانسیون په ګډون، د مفادو د تطبیق په برخه کې د افغانستان ملاتړ او هڅونه وکړي، چې افغانستان یې غړی دولت دی او د هغو له مخې مکلفیتونه لري؛ د امنیت شورا د ۱۳۲۵ (۲۰۰۰) ګڼه پرېکړه‌لیک او اړوندو پرېکړه‌لیکونو سره سم، د ټولو ښځو او نجونو د برابرۍ، د هغوی د

پیاوړتیا، او زده‌کړې، کار، روغتیایي خدمتونو، عدالت او نورو اساسي خدمتونو ته د هغوی د برابر لاسرسي، او همدارنګه د هغوی د تګ‌راتګ د آزادۍ او په عامه ژوند او د پرېکړه‌نیونې په بهیرونو کې د هغوی د بشپړ، برابر، مانادار او خوندي ګډون ملاتړ وکړي؛ د تاوتریخوالي د ټولو بڼو، د جنسي او جنسیتي تاوتریخوالي په ګډون، د مخنیوي او له منځه وړلو، او د بندیانو د حقونو د خوندیتوب ملاتړ وکړي؛ او د ماشومانو د خوندیتوب د زیاتولو او د هغوی پر وړاندې د بشري حقونو د سرغړونو او ناوړه استفادو د مخنیوي لپاره د ترسره کېدونکو هڅو ملاتړ وکړي؛

(د) د بشري او پراختیایي نوښتونو د ملاتړ په موخه د چاودېدونکو توکو د ګواښ راکمولو د تدابیرو په اړه مشورې ورکړي او چارې یې همغږې کړي، او همدارنګه د بشردوستانه ماین‌پاکۍ د سکتور د همغږۍ ملاتړ وکړي؛ د سولې، ثبات، اقتصادي پراختیا او سیمه‌ییز اتصال د ودې په موخه د سیمه‌ییزې او نړیوالې همکارۍ ملاتړ وکړي، د هغو هڅو په ګډون چې په افغانستان او سیمه کې د کوچنیو وسلو او سپکو وسلو د ناقانونه سوداګرۍ، د هغوی د بې‌ثباته کوونکې زېرمې جوړونې او خپرېدو د مخنیوي او له منځه وړلو لپاره ترسره کېږي؛

(هـ) د خپل ماموریت د تطبیق د پرمختګ په اړه، لکه څنګه چې پورته په (الف) څخه تر (د) فقرو کې ذکر شوي، راپورونه وړاندې کړي؛ او همدارنګه په ټول هېواد کې سیاسي او امنیتي وضعیتونه، ټولنیز او اقتصادي پرمختګونه، د بشري حقونو وضعیت، د ښځو او ماشومانو د حقونو په ګډون، د ملکي وګړو وضعیت، د عدلي سکتور اړوند پرمختګونه، ټولګډونه حکومتولي، نامشروع اقتصاد، په افغانستان کې د طبیعي پېښو، د اوبو کمښت او چاپېریالي ننګونو اقتصادي، بشري او ټولنیزې اغېزې، او همدارنګه په افغانستان کې د ملګرو ملتونو له خوا د همغږې شوې مرستې اړوند خطرونه، د مرستو د انحراف خطر په ګډون، وڅاري، مستند یې کړي، راپورونه پرې چمتو کړي او تحلیلي ارزونې یې وړاندې کړي؛

۳. غوښتنه کوي چې یوناما، د خپل ماموریت سره سم او د اړتیا پر مهال، د تحلیلي ملاتړ او بندیزونو د څارنې ټیم سره، چې د ۱۵۲۶ (۲۰۰۴) ګڼه پرېکړه‌لیک د ۷ پاراګراف پر بنسټ جوړ شوی دی، مرسته وکړي؛

۴. په ټول افغانستان کې د یوناما او د ملګرو ملتونو د نورو ادارو، صندوقونو او پروګرامونو د دوامداره حضور پر مهم اهمیت باندې ټینګار کوي، او پر ټولو اړوندو افغان سیاسي فعالانو او ذینفع شریکانو، د اړتیا پر مهال اړوندو چارواکو او نړیوالو فعالانو باندې غږ کوي څو د ماموریت په تطبیق او په ټول هېواد کې د ملګرو ملتونو او د یاد سازمان اړوندو کارکوونکو د خوندیتوب، امنیت او ازاد تګ راتګ ډاډمنولو کې له یوناما سره همغږي وکړي؛

۵. غوښتنه کوي چې په افغانستان کې د وضعیت او د یوناما د ماموریت د تطبیق په هکله، د ولایتونو کچې په ګډون، دې سرمنشي په هرو دریو میاشتو کې امنیت شورا ته خپل راپور وړاندې کړي؛

۶. له سرمنشي غوښتنه کوي چې د غوره کړنلارو سره سم، د ملګرو ملتونو د یوناما د کړنو ستراتیژیکه ارزونه ترسره کړي او د ۲۰۲۷ کال د مارچ تر ۳۱ نېټې پورې یې د پایلو په اړه امنیت شورا ته یو لیکلی راپور وړاندې کړي، څو د دې پلاوي د ماموریت د اغېزناک تطبیق ملاتړ وشي، د جوړښتي انسجام او همغږۍ کچه زیاته شي، د تکراري فعالیتونو مخه ونیول شي، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د فعالیتونو ترمنځ همغږي لا زیاته شي، او هغو ننګونو ته رسېدنه وشي چې ښایي په مستقیم ډول د خپل ماموریت اړوند چارو په ترسره کولو کې د دې ماموریت د وړتیا پر وړاندې خنډ ګرځي؛

۷. پرېکړه کوي چې په فعاله توګه به له دې موضوع څخه باخبره پاتې کېږي.

---